# د خوشحال خان خټک رباعيانې او معاشيات

(یوه څېړنه)

# A study of Khushal Khan Khattak's Rubaiyani and economics

Muhammad Naqeeb [*]
Qadar Wahid (samandar yousafzai) [**]

**Abstarct**

Khushhal Khan Khattak, who is considered to be a universal personality of Pashto poetry. Khushhal Khan Khattak was well-versed in religious studies as well as contemporary studies. In his poetry and prose, you will find all topics related to life in abundance. If you study his "Rubayat" carefully, you will know that Khushal Khan Khattak was well aware of economics as well as other sciences of his time, and like Alfred Marshall, Keynesian and John Walker, the production of wealth, the distribution of wealth, only They were very familiar with 'wealth' meaning land, labor, capital and organization.

Apart from explaining the methods of earning, investing and saving wealth, you have explained economic and non-economic objects in very simple language in your Rubayat, which presents Khushal Khan Khattak as a wise economist in his time.

**Keywords:** khushal khan khattak, rybayani, economis, economist, wealth,production, distribution, earning, saving.

پلار مې افلاطون نهٔ وهٔ خو وئېل به ئې
خېټه غزل نهٔ غواړي ډوډۍ غواړي [1]

د اجمل منصور دا پورته شعر او د مشر نورالبشر نويد دا وېنا د معاشي فکر سره سل په سله د منلو ده چې خپل قلم د خپل معاش ذريعه جوړه کړه ـ ځکه چې معاشيات هر هغه څیز غېر معاشي ګڼي چې معاشي ګټې ترې نهٔ شي پورته کېدے په معاشيات کښې هر هغه څيز معاشي څيز ګڼلے کېږي چې معاشي ستونزې حل کوي او د ژوند ضروريات پوره کوي نو دغسې د ژوند په بنيادي ضرورتونو کښې وړومبے خوراکه دے يعنې خېټه ډکول دي نو کهٔ

[*] Ph.d scholar Department of Pashto University of Malakand
[**] Lecturer Department of Pashto University of Malakand.

د غزل په ذریعه سره دا کار تر سره کېږي نو صحیح ده ګڼي نو بیا د اجمل منصور د پلار دغه فلسفه د غور وړ ده۔
هم دغه معاشي فلسفه به مونږ د خوشحال خان خټک په رباعیانو کښې ګورو چې هغه په خپلو رباعیانو کښې دا معاشي ستونزې څنګه په ډاګه کړي او د دې ستونزو د حل دپاره ئې څۀ لارې په ګوته کړي۔کومې چې به خوشحال خان خټک د خپل دور د معیشت پوهانو په صف کښې ودروي وړاندې لۀ دې چې مونږ د خوشحال خان خټک په رباعیانو معاشي نظر واچوو غواړم چې رباعي وپېژنو چې رباعي څۀ ته وائي :

## رباعي :

رباعي اصل کښې د عربۍ ژبې د لفظ ربع نه وتے دے چې معنا ئې څلور ده او هغه کلام چې څلور مصرعې لري او وړومبۍ دوه مصرعې او څلورمه مصرعه ئې خپلو کښې هم قافیه وي او یو خیال لري رباعي بللے شي دې باره کښې فضل میر خټک په خپل کتاب فضلیات کښې څۀ په دې ډول لیکي چې :

" پښتو ادب کښې رباعي په دوه قسمه ده یوه اولسي رباعي او بله عروضي۔عروضي رباعي زمونږ ادب ته د فارسۍ نه راغلې ده شاعرانو په دې صنف کښې ښۀ طبع ازمائي کړې ده د خوشحال بابا د شاعرۍ ډېره برخه په رباعیاتو مشتمله ده رباعي د ربع نه وتې ده چې معنٰی ئې ده څلور د شاعرۍ په اصطلاح کښې د څلورو مصرعو مجموعې ته وئیلې شي چې دغه څلور واړه مصرعو کښې یو خیال بند وي اوله دوېمه او څلورمه مصرعه به ئې اورمرو هم قافیه وي "[2]

## معاشیات :

د رباعیۍ د پېژندلو نه پرته دا هم ضروري دي چې معاشیات څۀ ته وائي تعریف ئې څۀ دے او څۀ څۀ مطلبونه ترې ولاړېږي۔ څوک معاشیات د دولت جوړولو علم ګڼي څوک د دې په ځاے د خرچ کولو په وضاحت سره پېش کوي او څوک هغه ټول توکي معاشیات ګڼي کوم چې د دولت د پېدا کېدو نه تر د دولت د استعمالېدو پورې په ژوند کښې پکار راولي۔ مطلب هغه ټول عمل چې د Land Labeur Capital او Organization نه تېرېږي

معاشيات بللے شي ـ Land زمکه، Labour محنت ، Capital دولت او Organization آجر دا د معاشياتو اهم توکي دي په دې لائنل روبنز وائي ـ

" معاشيات يو داسې علم دے چې په هغې کښې مونږ د انساني رويې مطالعه په هغه وخت کښې کوو چې کله دۀ ته د بې شماره خواهشونو په مقابله کښې ډېر کم وسائل مؤجود وي او د دغې کمو وسائلو استعمال ډېر زيات وي "[3]

هم د دې معاشياتو په اسلامي نقطهِ نظر کښې تعريف او معنې په بل ډول دي ځکه چې اسلامي معاشي نظام او په غېر اسلامي نظام کښې ډېر فرق دے ـ ځکه چې اسلام د معاشياتو تعريف په دې ډول کوي چې :

" اسلامي معاشيات يو داسې مضمون دے چې په هغې کښې د معاشيات د اصول او د نظريو مطالعه د اسلام د قانونو مطابق کېږي په دې کښې دا کتلے کېږي چې په يوه اسلامي معاشره کښې به د سود نه پاک معيشت څنګه وچلېږي او په دې کښې دا موضوعات هم شامل دي چې مؤجوده معاشي قوتونه او ادارې به د اسلامي اصولو مطابق څنګه وچلوي "[4]

اوس دا پورته علم خوشحال خان خټک په خپلو رباعيانو کښې څنګه او په څۀ کمال ځاے کړے دا به د هغه د رباعيانو مطالعه د معاشي افکارو د چوکاټ لاندې کوؤ چې خوشحال خان خټک د علم معاشيات کوم اړخونه او څنګه وړاندې کړي دي ـ

## د خوشحال خان خټک رباعيانې او معاشيات :

ټول هغه څيزونه چې قدرتي وي او د هغې د حصول دپاره د پېسو ضرورت نه وي غېر معاشي څيزونه بللے کېږي لکه،هوا ،اوبه،د نمر رڼا ،باران،واؤرې وغېره وغېرهولې بيا هم دا ټول څيزونه مونږ په معاشي عملونو کښې پکار راولو خو په خپله د دې د حصول دپاره څۀ معاشي جدوجهد نۀ کېږي نو ځکه ورته غېر معاشي څيزونه وئيلے کېږي خوشحال خان خټک په خپلو رباعيانو کښې دا داسې واضح کړي او اهميت ورله هم واضحوي لکه چې وائي :

واؤرې چې اوري په سپېرو خاؤرو
خاؤرې سپين زر شي په سپينو واؤرو

پـــــه مــــــنځ د دلــــو پــــه مــــنځ تېــــري کښــــي
ســــمه غــــر ســــپين شــــو پــــه ســــپينو واؤرو[5]

کله چې واؤرې وشي هم دغه واؤرو د اورې په موسم ويلي کېږي او زمونږ په خاؤره فصلونه داسې ښۀ وشي لکه سپين زر او زمونږ سمه او غر پرې ودان او اباد شي بل ځاے خوشحال خان خټک هغه غټه پلنه او تنه وره ونه هم غېر معاشي ګڼي چې سرے ئې د دې دپاره وکري چې دا مېوه وکړي او تر غټېدو ئې بلها خسمانه وکړي خو چې غټه شي نو مېوه ونۀ کړي او شنډي وخېژي اوسني معيشت دانو په دې خبره هډو کړې نۀ ده چې کۀ د يو څيز دپاره معاشي جدوجهد او کوشش هم وشي او هغه بيا هم معاشي څيز جوړ نۀ شي نو دې ته به څۀ وايو ولې خوشحال خان خټک دا وضاحت کوي چې کۀ په يو څيز معاشي جدوجهد وشي خو بيا هم معاشي ستونزه حل نۀ کړي نو دا به غېر معاشي څيز ګڼلے شي لکه چې وائي:

چـــــې علـــــم وکـــــړې عزيــــزه زويــــــه
فهــــم پــــه ښــــۀ علــــم پــــه عمــــل بويــــه
کمکيـــــــه ونـــــــه بـــــــارداره ښـــــــۀ ده
نـــــۀ پلنـــــه ونـــــه بـــــې بـــــاره لويـــــه[6]

يعنې علم به هله معاشي کړې چې عمل پرې وکړې او د هغې په ذريعه څۀ لاس ته راوړنې وشي ـ ځکه چې وړه ونه ښۀ ده چې بارداره وي او غټه ښۀ نۀ ده چې مېوه نۀ کوي ـ
بارداره ونه معاشي څيز شه او بې باره ونه غېر معاشي ـ دغسې د واؤرو ذکر هغوي په يوه بله رباعۍ کښې داسې کوي چې په خپله خو دا واورې هېڅ نۀ وي خو چې کله اوبو کښې بدلې شي نو غرونه شنه فصلونه تازه او هوا ښه کړي ځکه خو ليکي چې.

تــور غرونــه ســپين کــړې پــه ســپنه واورې
پــه ســبزه شــنې کــړې دا تــورې خــاؤرې
رنــــګ ګلونـــه چمــــن تــــه ورکــــړې
بـــاده دا تـــۀ ئـــې چـــې داځـــۀ راؤړې"[7]

هغه دا هم وائي چې کهٔ مونږ د ې و باغ مشاهده په معاشي توګه کؤ نو دا خبره به واضحه شي چې دې کښې به معاشي او غېر معاشي څېزونه دواړه مؤجود وې.په دې اړه د خوشحال بابا دا رباعي چې...

بــــاغ ونـــې وچـــې لـــري هـــم تـــرې
هــم ئــې بهتــر شــته هــم ئــې کهتــرې
پـــه ســـايه ګـــورې پـــه مېـــوه ډکـــې
تـــهٔ هغـــه ونـــې ګڼـــه بهتـــرې[8]

دغسې د غېر معاشي او معاشي څيزونو په حواله داسې رقم طراز دے

خـــواړهٔ د مهـــر وي خـــواړهٔ د زهـــر
وريـــځ د رحـــم وي وريـــځ د قهـــر
ځنـــې وريـــځ واؤرې اوبـــهٔ وي
ځنـــې ږلـــۍ تنـــدر د دهـــر"[9]

دلته خوشحال بابا وچې ونې غېر معاشي او ترې مېوه دارې او سايه دارې ونې معاشي ګڼلي دي.بل د الله پاک د قدرتون قائل وهٔ او وائي چې ربه کهٔ تا پرې باران نهٔ کولے نو دا مېدانونه سمې او غرونه به هېڅ وے.

تـــا چـــې پېـــدا کـــړل هـــومره ملکونـــه
ربـــه پـــه تـــا شـــي دا قدرتونـــه
کـــهٔ تـــا پـــرې نـــهٔ کـــړے دا بارانونـــه
واړه بـــه هـــېڅ وو دا ســـمې غرونـــه"[10]

خو دلته دا رباعي د باران او اوبو لهٔ وجې چې نهٔ پرې د انسان پېسې لګي او نهٔ توانائي نو د غېر معاشي توکو په توګه کارولے شوې ده.

دغسې باغوان ته پته وي چې زهٔ د کوم بوټي سره خوارې کووم او د مېوې د حاصلولو دپاره مې نال کړے دے نو هم هغه مېوه به راکوي او ما به خوشحالوي ـ ځکه چې د معاش د حصول دپاره دهٔ معاشي کوشش کړے وي او کوم غرض دپاره ئې چې ونه نالـه کړې وي چې هغه حاصل شي نو باغوان به لازم خوشحالېږي لکه خوشحال بابا چې وائي :

باغوان چې کېږدي په باغ کښې ونه
تپاک پرې څو کا تل په ساتنه
که بر ئې ښه شي زړه ئې پرې ښه شي
که بد شي نه کا باندې و تنه [11]

د معاشي او غېر معاشي څېزونو د وضاحت نه پس په معاشيات کښې اهم توکے محنت دے او محنت په معاشيات کښې څۀ په دې ډول معارفي کېږي چې انسان ته چې د جسماني او ذهني ستړتيا يا کوشش په بدله کښې کومه صله مېلاوېږي هغې ته محنت وائي ـ محنت په دوه ډوله دے يو جسماني او بل ذهني ـ جسماني محنت هغه محنت چې پکښې زور او طاقت استعمالېږي لکه د هنر په ذريعه څيزونه جوړول او ذهني محنت کښې خپل خدمات پېش کول وي لکه استاذ، ډاکټر وغېره وغېره ـ خوشحال بابا په خپلو رباعيانو کښې تل د محنت د عظمت پندونه وئيلي دي او پښتانۀ وګړي ئې محنت ته راپاروليي دي ـ سوال کوونکے ئې بد ګڼلے دے او دا تنبيه ئې ورته کړې چې په رنځ ومره خو سوال مۀ کوه ځکه چې سوال کول د نامردانو کار دے ـ لکه چې وائي:

نا مرد هغه دے چې و چا څۀ ورکا
منت دپاسه وربانـدې زبر کا
په رنځ کښې ؤمره هغه دارو مۀ خوره
چې په منت ئې وتا څوک درکا [12]

يا بل ځاے هم ځان مخاطب کوي چې کله ګنے بند بند سپين کړې نو سړي له شکرې ورکوي ځکه چې په کوم څيز محنت وشي نو هغه خواږه ورکوي ـ ځکه چې کاڼے وسېزي نو زر ترې جوړ شي او دا بې محنته نۀ شي نو ځکه خو وائي چې:

ګنے بند بند کا وتا شکر درکا
سر د صدف پربکړه وتا ګوهر درکا
بتر تر کاڼي مۀ شه خوشحاله
کاڼے چې وسېزي و تا زر درکا [13]

بل ځاے وائي چې کـه د خپـل لاس خمچې خورې نو د بـل د غنمو د ډوډۍ نـه غـوره ده چې کوچ پرې پورې وي او بیا وائي چې د خپل انغري د لوندو پچو اور د سوال یا د پردي انغـري د وچو د ړولۀ اوره ښۀ دے ـ ځکه خو وائي چې:

د خپلــــــې خــــــونې نغـــــــن د خمچـــــو
نـــــۀ چـــــې غنمينــــــه د بـــــل پـــــه کوچـــــو
نـــــۀ اور د خپـــــل انغـــــري د لمـــــدو پچـــــو
نـــــۀ اور د بـــــل انغـــــري د دړو وچـــــو[14]

دَ زر په حقله په یوه بله رباعۍ کښې وائي:

"غلـــــيم مـــــې زر دے پـــــه دا دوه رنګـــــه
لکـــــه چـــــې راشـــــي ځـــــي مـــــې لـــــه جنګـــــه
بـــــل پـــــه اســـــانه رالـــــره نـــــۀ راځـــــي
بـــــې ســـــپينې تـــــورې بـــــې ډېـــــره جنګـــــه "[15]

خوشحال بابا زر دَ عزت او حیا ذریعه هم ګڼي خو په دې حواله محطاط هم اوسي او زر دَ دَ یو نادان په لاس کښې ورتلل بد ګڼي:

"زر دې ور نـــۀ شـــي دَ نـــادان تـــر کـــوره
پـــه زر دولـــت دې عـــزت دے ګـــوره
پـه بـد ئـې خـرڅ کـا قـدر ئـې نـۀ لـرې
کاســـه ئـــې زر شـــي پـــه ډاګ نســـکوره"[16]

بل ځاے وائي:

"پـه قـد چـې نـوم لـري سـرو پـه څـو لکـه
پـه مـخ چـې نـوم لـري تمـام اوږمکـه
خولـــۀ دې حقـــه ده دَ ســـــرو یاقوتو
پـــه ســـپينو در و ګـــوهرو ډکـــه"[17]

د معاشیات یـوه بلـه اهمـه اصـطلاح "کمیـاب" ده ـ د کمیـاب مطلب د یـو څیـز د ضـرورت پـه مقابله کښې کمېدل دي په نور وضاحت سره چې کله د طلب په مقابله کښې رسد کم وي نو

دې ته کم یاب وائي کۀ په یو مارکیټ کښې ګنده انډه پرته ده نو دا کمیاب نۀ ده خو طلب ئې نشته او کله چې ښۀ ډېر چیني جوړېږي خو طلب ئې زیات دے او رسد ئې نۀ پوره کېږي نو دا کیماب دي په دې اړه خوشحال بابا لیکي چې :

ثیــــز چـــې کمیـــــاب شــــي عــــزت پېـــدا کـــــا
زنګــــي پـــــه هنـــــد کښـــــې قیمـــــت پېـــدا کـــــا
حلـــوا چـــې مـــــوړ خـــوري لـــذت ئـــې نـــۀ وي
ډوډۍ پـــــــه وږي لـــــــذت پېـــــــدا کـــــــا[18]

مطلب کوم ثیز چې کم وي نو د هغې قیمت زیات وي خوشحال بابا د خپل عصر په ټولو علومو پوهه لرله هغه په یو وخت ځکه خو شاعر، عالم، نقاد، جغرافیه دان، مؤرخ او نثرنګار وۀ.

بل اهم رکن په معاشیات او د دې په تعریف کښې زر دے چې په خپله هم ګڼ قسمونه لري چې ځۀ په کښې دا دي. اجناسي زر، دهاتي زر کاغذي زر او اعتباري زر وغېره وغېره په معاشیات کښې زر ځۀ ته وائي. پروفېسر واکر د زرو تعریف داسې کوي چې :

" Money is what money does "

زر سے مراد وہ شے ہے جو بطور زر اپنے فرائض سر انجام دیتی ہے"[19]

ژباړه : د زر نه مراد د هغه ثیز وي چې بطور زر خپل فرائض ادا کوي.

مطلب دا شۀ چې زر نه مراد سرۀ زر هم دي چې دهاتي زر ورته وائي. د فصلونو په شکل کښې هم زر مؤجود دي چې اجناسي زر ورته وئیلے شي د پېسو په صورت کښې کاغذي زر هم وي. اعتباري زر مونږ سره د بېنک ډرافټ، بېنک چېک او کرېډېټ کارډ وغېره په شکل کښې مؤجود دي. د خوشحال بابا په دور کښې دهاتي زر او اجناسي زر مؤجود وو نو د هغه په رباعیانو کښې هم دغه دوه قسمه زر بیان شوي دي. لکه د مثال په توګه د خوشحال بابا دا رباعیانې :

زر دي چــــې زېرمــــــه د ننــــګ و شـــــرم کــــــا
صـــــحبت د هـــــــر چـــــا ویلـــــه ګـــــرم کــــــا
ډېــــر ګـــــران کارونـــــه پـــــه زر اســـــان شــــي

زر پــــه فـــؤلاد کېـــږده فـــؤلاد هـــم نـــرم کـــا[20]

هر څۀ ځيز زر دي چې ورک پېدا کوي او پيدا ورکوي په خپل قيمت سره د خادم نه مخدوم او د مخدوم نه خادم جوړوي او هم دغسې خوشحال خان خټک هم وائي چې:

زر دي چـــې هـــر چاتـــه اعجـــاز معلـــوم کـــا
معـــدوم مؤجـــود کـــا مؤجـــود معـــدوم کـــا
وينځـــه مېـــرمن کـــا خـــادم مخـــدوم کـــا
زر پـــه ســـندان کېـــږده ســـندان هـــم مـــوم کـــا[21]

هم هغه د جان واکر خبره چې هر هغه ځيز زر دي چې کوم کار ترې اغستل وي هغه کوي او په معاشيات کښې زر دولت ته هم وائي چې څۀ پرې مونږ اغستل غواړو هغه پرې کېږي.
بيا ځينې عوامل داسې دي چې دې ته يعنې معاشيات تـه نقصان رسوي چې يـو پکښې کم علمي ده چې څوک د معاشيات په علم نۀ وي پوهه نو دې علم ته نقصان رسوي يا خو د مال پېدا کولو طريقه نۀ ورځي يا د مال تقسيم په غلطه طريقه کوي او يا ئې د مال د خرچ کولو عمل درست نۀ وي دې پله خوشحال خان خټک د خلقو پام داسې راګرځوي چې:

قاضـــي چـــې اوم وي بـــې علمـــه کـــار کـــا
هـــم خپـــل ځـــان خـــوار کـــا هـــم خلـــق خـــوار کـــا
غلـــط غلـــط لـــولي خطـــا خطـــا وائـــي
و ســـل لعنـــت تـــه خپـــل ځـــان تيـــار کـــا[22]

ځينې پوهان معاشيات شېطاني علم هم ګڼي هغوي وائي چې کله ناپوهه سړي له دولت ورشي نو هغه هم فضول خرچه شي، جوارګر شي يا نشئي شي په دې اړه خوشحال بابا قلم داسې خوزولے:

ســـفله پـــه خپلـــه خپـــل ځـــان رســـوا کـــا
چـــې دولـــت مـــن شـــي غېـــرې هـــوا کـــا
ســـفله قاضـــي مـــۀ شـــه شـــراب دوا کـــا
ســـفله طبيـــب مـــۀ شـــه رنـــځ لا دوا کـــا[23]

هم په دغه مد کښې دا بله رباعي ده چې مقصد او مطلب ئې دغه دے چې څوک په غلطو طريقو مال ګټي نو په دغه مال کښې بيا برکت نۀ وي چې په کومه لار ورته مال راغلے وي هم په هغه لار ترې واپس درومي ځکه خو خوشحال بابا وائي چې:

قابـــل کـــۀ نـــۀ وي دولـــت کـــۀ بيـــا مـــومي
لکـــه ئـــې بيـــا مـــومي هســـې تـــرې بيـــا درومـــي
بـــاور پـــه بخـــت مـــۀ کـــړه بـــاور پـــه تخـــت مـــۀ کـــړه
اســـمان ئـــې ونغـــاړي کـــۀ شهنشـــاه درومـــي[24]

خوشحال بابا دولت دَ تعلق ذريعه هم ګڼي. دَ هغۀ خيال دے چې کله دَ انسان سره دولت نۀ وي نو دَ هغۀ خواږه ياران هم دَ هغۀ سره دَ ناسته نۀ کوي: لکه چې وائي:

"ښـــه ښـــه يـــاران وو ښـــه اشـــنايان وو
چـــې پـــه دولـــت کښـــې راســـره ځـــان وو
دولـــت چـــې لاړ شـــو راتـــه ئـــې شـــا کـــړه
جـــدا لـــه مانـــه پـــه يـــوه نـــان وو"[25]

بحيثيت مسلمان خوشحال خان خټک د عصري علومو سره په مذهبي علومو هم پوره پوره پوهه وۀ هغه د زکوات او قرباني په ورکولو او کولو هم پوره زور ورکړے ځکه چې زکوات د زکي نه دے او معنا ئې پاک ده نو په زکوات ورکولو سره مال پاکيږي هغه کۀ اجناس وي سرۀ زر ، سپين زر يا نقدې روپۍ وي په هر څيز کښې په خپل حساب زکوات فرض دے او چې څوک قرباني او زکوات نۀ ورکوي نو خوشحال بابا ئې داسې مخاطب کوي چې:

قابـــل هغـــه دے چـــې درســـت طـــلا شـــي
لـــۀ زرو ســـيمه پـــه اســـتغنا شـــي
نـــۀ ئـــې زکـــوات وي نـــۀ ئـــې قربـــان وي
هســـې تـــرې درومـــي لکـــه چـــې راشـــي[26]

د دې پورته دوۀ رباعيانو چې څنګه خوشحال بابا ظاهروي چې اخلاق په علم معاشيات کښې يو ضروري او اهم رکن دے او باقاعده په علم معاشيات د دې دپاره يو قانون دے

چې اخلاقي قانون ورته وائي ـ اخلاقي قوانین د عامو خلقو د مجموعي اثراتو لاندې یو تسلیم کړے شوے طرز دے چې په هغې عمل کول په هر ذمه وار شهري لازم دي ـ مثلاً په کاروباري لېن دېن کښې دروغ نۀ وئېل دهوکه نۀ کول غلط مال نۀ خرڅول وغېره وغېره ـ او بیا بحیثیت مسلمان د حلال او حرام فرق پېژندل ځکه چې اسلام کښې سود حرام دے جواري کول حرام دي دغسې د ښۀ باؤ دپاره مال ذخیره کول هم حرام دي نو په حېث د یو مسلمان خوشحال بابا په دغې هم ژور نظر لرلے دے او د اسلامي معاشیات په علم عمل پېرا وۀ او نورو خلقو ته ئې هم دا تعلیمات ورکړي دي ـ خوشحال بابا وائي چې :

چې لـــۀ حرامـــه ســـړے نفـــرت کـــا
خـــدا ے بـــه ئـــې ارت حـــلال نعمـــت کـــا
هـــومره بـــه لـــوئې مرتبـــې مـــومي
چـــې د نېکـــانو ســـره صـــحبت کـــا[27]

حلال د عربۍ ژبې تورے دے چې معنا ئې ده جائز کېدل یعنې د کوم څیز چې اجازت وي او په اصطلاح کښې هغه څیزونه چې شارع یعنې الله پاک ئې اجازت ورکړے دے حلال دے ـ ځکه خو قران او حدیث هم په دې خبره زور ورکوي چې حلال مال ګټئ او خورئ نۀ چې حرام په قران پاک کښې الله پاک فرمائي چې :

" یا ایها الناس کلو مما في الارض حلالا طیبا ولا تتبعو خطوت الشیطن انه لکم عدو مبین " ( القرآن، سورت المومینین، آیت نبمر ۵۱)

ژباړه : اے خلقو خورئ هغه څه چې په زمکه کښې دي حلال او پاک تابعداري مۀ کوئ د قدمونو د شیطان بې شکه دا ستاسو ښکاره دښمن دے ـ

ځکه خوشحال خان خټک وائي چې :

تـــل ئـــې خبـــرې لـــۀ ښـــۀ خوراکـــه
ذکـــر مـــذکور ئـــې لـــۀ ښـــۀ پوشـــاکه
خپـــل کســـب هـــيڅ نـــۀ واره لـــۀ ظلمـــه
هســـې توبـــه ،توبـــه لـــۀ هســـې ژواکـــه[28]

دغسې د حلال او د حرام باره کښې نور هم ګڼ شمېر حديثونه شته چې څۀ ترې دلته نقل کړ حديث شريف دے چې :

" بې شکه الله پاک دے او د پاک څيز نه علاوه هيڅ هم نۀ قبلوي "[29]

دغسې يو بل حديث کښې هم د حلال باره کښې راځي چې :

" د حلال مال طلب په هر مسلمان واجب دے "[30]

بعض خلق داسې هم وي چې د انسان د مال دولت په وجه د هغه سره دوستي لري او کۀ چرې دا مال دولت لۀ دغه سړي سخه لاړ شي نو بيا ئې په طرف هم نۀ ورځي نو دا هم حرام دي۔ دې باره کښې خوشحال بابا ليکي چې :

ښـــــۀ ښـــــۀ يـــــاران وو ښـــــۀ اشـــــنايان وو
چـــــې پـــــه دولـــــت کښـــــې راســـــره ځـــــان وو
دولـــــت چـــــې ولاړ شـــــو راتـــــه ئـــــې شـــــا کـــــړه
جـــــدا لـــــۀ مانـــــه پـــــه يـــــوه نـــــان وو[31]

د دې رباعيانو خلاصه دا شوه چې د هر څيز حقيقي مالک الله دے او د هر څيز پېدا کولو واله الله دے۔ ځکه چې د الله پاک د حکم نه بغېر يو انسان يوه ذره هم نۀ شي جوړولے نو بيا مونږ له پکار دي چې د الله حکمونه منو او د حلال او حرام په فرق سره حلال مال ګټو او خورو۔

ځکه خو " رابنز " په خپل تعريف کښې معاشيات د مذهب او اخلاقيات نه بېخي جدا کوي ځکه چې هغه د مقاصدو ښۀ والے يا بدوالے د معاشيات موضوع نه ګڼي او د مقصدونو د فېصلې په اړه غېر جانبدار دے۔ ولې د دې خلاف په دين اسلام کښې په اخلاقي قدرونو مشتمل کوششونه ډېر اهميت لري۔

د دې نه علاوه د هر علم مثبت او منفي اړخونه وي نو د علم معاشيات يو منفي اړخ دا هم دے چې په دې پوهه سړي اکثر د مال د زياتولو په حرص کښې اخته شي او نتيجه ئې دا شي چې دا سړے کنجوس او لالچي شي کوم چې بيا چرته مال لګول ضروري وي هغه ځاے کښې مال نۀ لګوي ذخيره اندوزوي شروع کړي او دا په عام معاشيات او اسلامي

معاشیات دواړو کښې روا نۀ ده ـ دغسې خوشحال خان خټک هم دا مسئله په خپلو رباعیانو کښې په ډاګه کړې او بخل کنجوسي او لالچ ئې بد ګڼلي دي ـ

څوک چې توانګر شي په قناعت سره
افلاس ئې نشته په روایت سره
حرص ډېر شوم دے حریص محروم دے
نظر کۀ وکړې په حدیث ایت سره [32]

د خوشحال بابا د لوړ علمۍ پته او په دین د پوهې پته د دې نه لګي چې هغه وائي چې حریص محروم دے لۀ هر څۀ نه او دا ور زیاتوي چې دا خبره د حدیث او قراني ایت نه ثابته ده ـ

د حضرت ابوهرېره نه روایت دے چې حضرت محمد صله الله علیه و الیه وسلم ارشاد وفرمایه چې د مال او اسباب د زیاتوالي په وجه مالداري نۀ وي بلکې اصل مالداري خو د زړۀ غني کېدل دي په خدا ے قسم چې ما سره ستاسو د مختاجۍ غم نشته بلکې ما سره ستاسو باره کښې دا وېره ده چې تاسو به د مال زیاتولو په هوس کښې مبتلا شئ ـ

دغسې په قران پاک کښې دي چې ترجمه ئې دا ده:

" اے ایمان والؤ صبر کوئ او د صبر کولو واله سره مشوره کوئ او د الله نه وېرېږئ چې تاسو کامیاب شئ " القران، سورت العمران، ایت 200

دغسې په یوه بله رباعۍ کښې خوشحال بابا وائي چې :

غضب ملوک لره دروغ ملا لره
بخل غني لره فحش نسا لره
دا څلور توکه هر ګوره بد دي
فکر چې راغے په زړۀ کښې مالره [33]

بل ځاے د حرص او بخل باره کښې خوشحال بابا وائي چې :

چې ستا په دین نۀ وي معدوم ئې وګڼه
چې څۀ تري زده کړې مخدوم ئې وګڼه
حرص شومي لري څوک چې حرص لري

حضـــــرت وئيلـــــي دي محــــــروم ئــــې وګڼـــــه[34]

د قران پاک د ايت مفهوم دے چې څوک بخل کوي په هغه څيز کښې کوم چې الله پاک دۀ لـه ورکړے يعنې مال نو دا دې دا د ځان دپاره ښۀ نۀ ګڼي بلکې دا د دۀ دپاره بد دے او نېژدې ده چې په کوم څۀ کښې دۀ بخل کړے دا به د دۀ د مرۍ تېزندۍ شي ـ د قران څلورمه پاره ،ال عمران سورت ، او ايت نمبر يو سل اتيايم کښې دغه پورته خبره ذکر ده ـ

بل کۀ مال دے کۀ هنر او يا بل څۀ څيز کۀ دا ستا دلاسه لاړ شي نو خفه کېږه پسې مۀ ځکه چې د الله په لار کښې خرچ غوره دے ـ د ذخيره اندوزۍ نه ـ د حضرت محمد صلي عليه اليه وسلم ارشاد دے چې :

" تاجر خوشبخته دے او مال ذخيره کولو واله ملعون دے "[35]

هم دې خبرې ته چې په تللي پسې ارمان نۀ دے پکار خوشحال خان خټک داسې اشاره کوي :

چـــــې بــــــاز دې ولاړ شــــــي چـــــرې لـــــۀ دســــــته
پــــــه غـــــرۀ پــــــه ســــــمه کـــــړې ورپســـــې مرســـــته
هنـــــــر هــــــم هســـــــې يـــــــو بـــــــاغي بـــــــاز دے
طلـــــب ئـــــې نـــــۀ کـــــړې پــــــه همـــــت پســــــته[36]

او وائي چې هنر ټينګ ساتل د پست همتو کار نۀ دے ـ دا چې په عمل کښې را نۀ ولې نو دا بيا هېرېږي او بيا پسې لاس مروړل او اُف اُف کول بې ضائع کار دے ـ او د علم معاشيات سره سره معيشت ښۀ کول پوهه ذهن د متهو زور او ځواني غواړي ـ مطلب دا چې معيشت دان به پوهه هنر زور او ځواني لري ځکه چې په پيرۍ کښې بيا سرے د معاش د ښۀ کولو توان نۀ لري په دې اړه خوشحال بابا داسې غږېدلے :

څـــــو دې دولــــــت شــــــته هــــــو مره عــــــزت شــــــته
څـــــو دې صـــــحت شــــــته هــــــو مره راحــــــت شــــــته
چـــــې پيـــــــري راشــــــي دواړه پـــــــه مــــــخ وړي
کــــــۀ دې دولــــــت شــــــته کــــــۀ دې صــــــحت شــــــته[37]

يا دا چې :

پیـــــرۍ پـــــرې ایســــــتم لــــــۀ تالاشــــــونو
هـــــائې ښـــــکلیو ســـــترګو ښـــــکلیو غاښـــــونو
هغــــه خــــوړل نشـــــته هغــــه لیـــــدل نشـــــته
ولاړم د نـــــــورو ښـــــــو معاشـــــــونو[38]

او څنګه چې خوشحال بابا معاشیات په اسلامي ډهانچه کښې زدۀ کړي او ښودلي نو دغسې د مرګ او د خالي لاس تلو عقیده ئې هم پخه ده او دې نه مخکښې چې کله د مغل منصب ئې لۀ لاسه درومي نو هغه څۀ چې په معاشیات کښې ورته بنیادي ضرورتونه وائي لکه ډوډۍ،لباس او کور نو د دې غم د ټولو غمونو نه اول ګڼي او وائي چې د بنیادي ضرورتونو غم چاته په زړۀ شي نو د سندرو او بدلو غمونه ئې تر شاشي او خبره هغه د اجمل منصور شعر ته ببرته راشي چې خېټه غزل نۀ غواړي ډوډۍ غواړي ـ خوشحال بابا په دې حقله لیکي چې :

چـــــې چاتــــه پــــېښ شـــــي غــــم د خوړلـــــو
یـــــــا غـــــــم د څښـــــــلو د اغوســـــــتلو
نــــــور نــــــور غمونـــــه واړه تـــــر شـــــا شـــــي
کــــــۀ د ســـــــندرو وي کـــــــۀ د بـــــــدلو[39]

دغسې اسلامي معیشت د الله په ورکړه د صبر د تلقین وعظ کوي نو هم دا خبره په عام معیشت او اسلامي معیشت کښې فرق په ډاګه کوي ـ ځکه چې عام معیشت وائي چې د ښۀ نه ښۀ طرف ته به ځې جدوجهد به کوې ـ ولې بیا اسلام هم د جدوجهد خبره کوي خو د الله د طرف نه په مبلاؤ شوي څیز د صبر کولو تلقین هم کوي ـ ځکه خو خوشحال هم وائي چې :

غنـــــي کـــــۀ هـــــر څـــــو د زرو وېـــــش کـــــا
پـــــروا پـــــرې نـــــۀ لـــــري صـــــبر دروېـــــش کـــــا
دا صــــــبر ښــــــۀ دے د غنــــــي تــــــر ورکــــــړې
صــــــبر بــــــه نــــــور نــــــور نعمــــــت در پــــــېښ کــــــار[40]

په قران شريف کښې الله پاک د سورت البقره په ايت نمبر 153 کښې فرمائي مفهوم ئې دا دے چې : اے ايمان والو په صبر او مونځ سره مدد اوغوارئ بې شکه الله د صبر کوونکو سره دے ـ
دغسې د صبر دوه قسمه ښودلے شوي دي چې يو ته بدني صبر وائي لکه بدني سختئ او محنت برداشت کول او ثابت قدم اوسېدل او بل طبعي خواهشونه او د هغې د تقاضو نه صبر کول ـ دغسې خوشحال بابا طمع کول هم نۀ خوښوي او وائي چې :

طمـــــع بـــــلا ده اصـــــيل بنـــــده کـــــا
ښـــۀ ښـــۀ ســـړے وي دائـــې ګنـــده کـــا
مـــا ډېـــر ليـــدلي چـــې طمـــع نـــۀ لـــري
پـــه بادشـــاهانو پـــوري خنـــده کـــا[41]

د دې ټولو معاشي توکو د پوهې او څرګندولو نه پس دا خبره په ازاد مټ کېدے شي چې خوشحال بابا په خپلو رباعيانو کښې د خپل عصر د معاشي علم پوره پوره پوهه لرله او دا پوهه په دواړه اړخه وه چې عام معيشت ئې هم پېژنده او د مسلمان په حېث ئې د اسلامي معيشت پرچار ښۀ په ډاګه کړے دے ځکه د اسلام مطابق د مرګ په لار د خالي لاس تلو په عقيده کلک ولاړ وۀ او دا خبره په ډاګه کوي چې اخر تلۀ دي د دې فاني دنيا نه امير له هم غريب له هم عامي له هم عالم له هم ـ ځکه خو وائي :

چـــې پـــه مړونـــد ئـــې بـــاهو د خيـــال ؤ
ګـــــــوتې د زرو غمــــــــــي د لال ؤ
وګـــــور تـــــه لاړل هغـــــه لاســـــونه
چـــې پـــه حنـــا بـــه لالـــه مثـــال ؤ[42]

يا دا چې :

کـــۀ هـــر څـــو ښـــۀ شـــي بيـــا دې بادشـــاه شـــي
لښـــکر دولـــت لـــري صـــاحب د جـــاه شـــي
بيـــا بـــه تنهـــا درومـــي د ګـــور و خلـــې تـــه
پـــه خپـــل عمـــل بـــه هالـــه اګـــاه شـــي [43]

او یا دا چې:

"نــــهٔ اوربشـــــینه دَ خپلـــــې خـــــونې
نـــهٔ چـــې غنیمـــه دَ بلـــې خـــونې
ځنـــو بـــې ځایـــه خـــونې تـــالا کـــړې
پـــه ځـــا ے مردانـــو خـــور ولـــې خـــونې"[44]
شـــکر پـــه دا چـــې لـــه نیســـته هســـت شـــو
عقـــل ئـــې راکـــړ خـــدا ے پرســـت شـــو
رتبـــه بـــه ګانـــده پـــه عمـــل مونـــده شـــي
عمـــل کـــړئ ولـــې پـــه همـــت پســـت شـــو"[45]

دا پورته حوالې او د دې نه پرته ګڼ شمېر نورې حوالې مونږ ته خوشحال د خپل دور د یو عـالم معیشـت دان پـه حېث راپېژني ځکـه چې دا صـرف د هغـه د رباعیـانو حـوالې وې د خوشحال بابا نثر، غزل، مرثیې، قصیدې او نظمونه کهٔ وسنجولے شي نو دا خبره به پـه بشـپړه توګه راڅرګنده شي چې خوشحال خان خټک د معاشیات په علم پوره پوهه لرله.

# حوالې

[1] اجمل منصور، ساندې، عامر پرنټنګ پرېس پېښور، کال 2012ء، مخ 25
[2] خټک، فضل میر، فضلیات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دریم چاپ، کال 2021ء، مخ 274
[3] اوصاف احمد، علم معاشیات او اسلامي معاشیات، ایفا پبلیکېشنز نئ دلي ، جون 2017ء، مخ
[4] همدغه اثر، مخ 7
[5] د خوشحال رباعیات، پښتو ټولنه، پرله پسې نمبر، (195) ، د ادبیاتو څانګه، کال 1349، مخ 39
[6] هم دغه اثر، مخ 58
[7] خان، محمد طه، پروفیسر، رباعیات خوشحال (جلد اول)، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، 2009ء، ص45
[8] ایضاً، ص46
[9] ایضاً، ص60
[10] ایضاً، ص109
[11] هم دغه اثر، مخ 42
[12] ـ رسا، سېد رسول، ارمغان خوشحال، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، دریم چاپ، 2099ء، مخ 117
[13] هم دغه اثر، مخ 114
[14] د خوشحال رباعیات، پښتو ټولنه، پرله پسې، مخ 34
[15] خان، محمد طه، پروفیسر، رباعیات خوشحال (جلد اول)، ص۸۱
[16] ایضاً، ص ۱۹۱
[17] ایضاً، ص ۱۹۱
[18] رسا، سېد رسول، ارمغان خوشحال، مخ 116
[19] فریده صادق، معاشیات، شېخ غلام علي اېنډ سنز، لاهور، مئ 2023ء، مخ 25
[20] رسا، سېد رسول، ارمغان خوشحال، مخ 108
[21] د خوشحال رباعیات، پښتو ټولنه، پرله پسې، مخ 7
[22] رسا، سېد رسول، ارمغان خوشحال، مخ 112
[23] هم دغه اثر، مخ 115

[24] د خوشحال رباعيات، پښتو ټولنه، پرله پسې مخ 217

[25] خان، محمد طه، پروفیسر، رباعیات خوشحال (جلد اول)، ص ۱۲۹

[26] هم دغه اثر، مخ 217

[27] رسا ، سېد رسول، ارمغان خوشحال، مخ 110

[28] د خوشحال رباعيات، پښتو ټولنه، پرله پسې نمبر195، د ادبياتو څانګه، کال 1349، مخ 51

[29] انيساپوري، مسلم بن حجاج، امام، صحيح مسلم، دارلطيبه للشروالتوزيع، رياض، b1، 2006ء، حديث9015،

[30] ـ الطبراني، ابوالقاسم سلېمان بن احمد ، المعجم لاوسط، دارالحرمين، قاهره، جلد8، ص 272

[31] د خوشحال رباعيات، پښتو پرله پسې نمبر195، د ادبياتو څانګه، کال 1349، مخ 34

[32] د خوشحال رباعيات، پښتو پرله پسې، مخ 463

[33] هم دغه اثر، مخ95

[34] هم دغه اثر، مخ 57

[35] سنن ابن ماجه، حديث نمبر 2153

[36] د خوشحال رباعيات، مخ 54

[37] هم دغه اثر، مخ 43

[38] هم دغه اثر، مخ 31

[39] هم دغه اثر، مخ 32

[40] هم دغه اثر، مخ 9

[41] هم دغه اثر، مخ 9

[42] هم دغه اثر، مخ 36

[43] هم دغه اثر، مخ 224

[44] خان، محمد طه، پروفیسر، رباعیات خوشحال (جلد اول)، ص ۱۱۱

[45] ایضاً، ص 123

**References**

.1 Ajmal mansoor, saandi,amir printing press peshawer,2012,p 25.
.2 Khattak ,fazalmir,Fazaliyat,araf printers mahala jangi peshawer,2022,p 274.
.3 Aosaf ahmad ,ilmi maashiyat awo islami maashiyat, eefa publication new dehli, 2017, p3.
.4 Above, p7.

.5 Rubayat e khushal, pukhto tolana parlapasay 195 number, 1349,p39.
.6 Above, p 58.
.7 Taha khan,Muhammad,prof,Rubayate khushal,pokhto acadmy peshawar,2009,p45.
.8 Above,p46.
.9 Above,p60.
.10 Above,p109.
.11 Above, p 42.
.12 Rasa, said rasool, armaghani e khushal, university book agency peshawer, 2009, p 117.
.13 Above, p 114.
.14 Rubayat e khushal, pukhto tolana parlapasay, p 34.
.15 Khan Muhammad,Taha,rubayeyate khushal,p81
.16 Above,p191.
17 .Above,p191.
18 .Rasa,said rasool,armaghane khushal,p116.
19 .Farida sadiq,maashiyat,sheikh ghulam ali don sons,lahore,may 2023,p25
20 .Rasa,said rasool,Armaghane khushal,p108.
.21 Rubayetae khushal,pokhto tolana parlapase,p7.
.22 Rasa, said rasool, armaghani e khushal, p 112.
.23 Above, p 115.
.24 Rubayat e khushal, pukhto tolana parlapasay, p 217.
.25 Above, p 217.
.26 Rasa, said rasool, armaghani e khushal, p 110.
.27 Rubayat e khushal, pukhto tolana parlapasay, p 51.
.28 Aneesa pori, Muslim bine hujaj , imam saheh muslim darutayyebaa taozih b1, hadith 9015, 2006.
.29 At Tibrani,Abul qasam suliman bine ahmad,Alajmul aosat,darul harmain,QAHIRA jild8, p 272.
30 .Rubayat e khushal, pukhto tolana parlapasay, p 34.
.31 Above, p63.
.32 Above, p 95.
33 Above, p 57.
34 .Sunan ibni maaja hadith number 2153.
35 .bove 54.
36 .Above, p43.
37 .Above, p31.
38 .Above, p32.
.39 Above, p9.
.40 Above, p9.
41 .Above, p36.
.42 Above, p224
43 .Above,p224.
44 .Taha khan,Muhammad,rubayeyate khushal,p111
45 .Above,p123